د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه

د دارالانشاء عمومي رياست
د تحريراتو آمريت
د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۱۰
نېټه: ۱۴۴۳/۸/۱۳ هـ ق

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم و رحمت الله و برکاته

وبعد: د نظامي محاکمو د چارو د حدودو د ټاکلو په هکله د اسلامي امارت مشرتابه محترم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله فرمان نمبر (۲۳۶ج۱) مورخ ۱۴۴۳/۷/۱۰ هق په لاندې ډول رارسیدلی:

((نظامي محاکم د شرعي احکامو په رڼا کې د اسلامي امارت د درې ګونو امنیتي ارګانونو (ملي دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او د استخباراتو لوی ریاست) پر چارواکو او منسوبینو باندي د تر سره شوو شکایاتو، دعواوو او عرائضو د اوریدلو او څیړلو او د اثبات په صورت کې د شرعي پریکړو د صادرولو صلاحیت لري، چې د پریکړو (حدود، قصاص او اعدام) تطبیق به یې د درې ګونو محکمو او اسلامي امارت د مشرتابه تر تأیید وروسته په عملي ډول تر سره کیږي.

د اسلامي امارت درې ګوني امنیتي ارګانونه د نظامي محکمې د پریکړو د عملي کولو په ملاتړ په جدي ډول مکلف دي.))

د اسلامي امـارت د مشرتابه مـذکور فرمان مـو د ستري محکمې محترم عالي مقام ته وړاندي کړ په اړه یې داسې هدایت صادر شو:

((د اسلامي امـارت د مشرتابه محـترم عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله مذکور فرمان دې د افغانستان اسلامي امارت ټولو محکمو ته واستول شي.))

بناءً د اسلامي امـارت د مشرتابه مـذکور فـرمان د سـترې محکمې د عـالي مقام د هدایت په اساس د دې متحدالمآل سره یـو ځای د افغانستان اسلامي امـارت ټولـو تمیزونو، دیـوانونو مـرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

په درنښت

۱۳/۸/۱۴۴۳ هق

مفتي عبدالرشید "سعید"
د ستري محکمې
د دارالانشاء رئیس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
Post box: ۱۹۸۹
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحیه، کابل- افغانستان
تیلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af